سال سوم شماره ۱۳۰
شماره مسلسل ۲۱۰
شنبه ۳۱ جوزا ۱۳۸۲ هـ.ش
۲۱ ربیع الثانی ۱۴۲۴ هـ ق
21 June 2003

DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

امضای موافقتنامه سه جانبه در تهران

یک موافقتنامه سه جانبه میان افغانستان، ایران و ازبکستان در مورد توسعه شاهراه حمل و نقل بین المللی میان سه کشور، در تهران به امضا رسید. بر اساس این موافقتنامه که توسط آقایان حامد کرزي رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان، محمد خاتمی رییس جمهور ایران و اسلام کریم اف رییس جمهور ازبکستان امضا شد ایران از طریق افغانستان به کشورهای آسیای میانه متصل می شود. با امضای این توافقنامه دسترسی کشورهای آسیای میانه به اروپا و آبهای بین المللی از طریق شاهراه های افغانستان و ایران فراهم می شود. رییسان جمهور سه کشور در نشست خود همچنین درباره مبارزه با تروریزم و برخورد با جرایم سازمان یافته گفتگو کردند. قرار است شورای هماهنگی مشترکی میان این سه کشور برای اجرای این موافقتنامه تشکیل شود. محمد خاتمی، رییس جمهور ایران، گفته است که اتصال ازبکستان از طریق افغانستان به ایران و آب های بین المللی بسیار کم مصرف تر از سایر راه ها خواهد بود و علاوه بر این ارتباطات دو کشور را نیز ساده می سازد. آقای خاتمی قول داد که ایران برای بازسازی افغانستان به آن کشور کمک خواهد کرد. آقاي حامد کرزی نیز این طرح را منشا تحول بسیار بزرگی برای منطقه ارزیابی کرده است. در همین حال، یک موافقتنامه سه جانبه دیگر در مورد راه حمل و نقل و ترانزیت بین ایران، افغانستان و تاجکستان به امضا رسیده است بر اساس این سند که میان محمد خاتمی رئیس جمهور ایران امامعلی رحمانف رییس جمهور تاجکستان و حامد کرزی رئیس دولت افغانستان به امضا رسید علاوه بر گسترش راه های ترانزیتی بین این سه کشور، راه ارتباط آسیای میانه از طریق ایران و افغانستان به آب های آزاد و کشورهای اروپایی باز خواهد شد به گزارش ایسنا در این موافقتنامه بر ایجاد و مطالعه درباره خط راه آهن بین سه کشور نیز تاکید شده است.

نامه سرگشاده

تدارک برای ایجاد اتحادیه آزاد و سراسری ژورنالستان افغانستان عنوانی مقام محترم ریاست دولت انتقالی اسلامی افغانستان

ریاست محترم دولت انتقالی اسلامی افغانستان جناب آقای حامد کرزی با اهدا سلام و آرزوی موفقیت!
مطبوعات بعنوان وجدان بیدار جامعه و مدافع اصلی دموکراسی رسالت خود میداند که در برابر چالشهای موجود در جامعه با شجاعت بدون ملاحظه موقعیت و مقام افراد و حلقات قدرت برای تحکیم ص ۴

د اساسي قانون د نظر پوښتنې غونډه

پرون په کابل کی د اساسي قانون د نظر پوښتنی یو بل پړاو تر سره شو. په غونډه کی یوازی د وردګو ولایت مخورو، سپین ږیرو او د نظر خاوندانو ګډون وکړ او د اساسي قانون له غړو سره یي خپل یو شمیر نظریات، وړاندیزونه اوسوالونه طرحه کړل. دغی غونډی ته د اساسي قانون د غړو له جملي څخه ښاغلی موسی معروفی، پروین علی مجروح او داکتر عبدالحی الهی ورغلی وو او د نوی اساسي قانون په اړه یي ګډون والو ته هر اړخیزه معلومات ورکړل. په داسي حال کی چي دنظریاتو د راټولولو په نیت د اساسي قانون کمیسیون خپل استازي د هیواد بیلا بیلو سیمو ته استولی دي.

د مهدوي په نیولو د نړۍ د ژورنالستانو غبرګون

د مطبوعاتو د آزادی نړیوالو ډلو د افغانستان د انتقالی دولت له مشر حامد کرزی نه غوښتی دي چی هغه دوه خبریالان خوشي کړي چی دري ورځي وړاندي د چارواکو له خوا د اسلام ضد مقالو د خپریدو په تور نیول شوی دي. د آفتاب د اونیزی مسوول مدیر میر حسین مهدوي او سر لیکوال علي رضا پیام د سه شنبی په ورځ په کابل کي د مطبوعاتو له قانون نه د سرغړوني په تور چی اسلام ته یی د سپکاوي مقالي خپري کړي وي ونیول شول. کرزی ته په یو سر خلاصی لیک د امریکا د ژورنالستانو د ساتني کمیټی دغه نیوني غندلي او له افغان ولسمشر نه یي غوښتی دي چی د ژورنالستانو په ضد ۴ مخ

دلوی او ښښونکی خدای په نامه

سرمقاله

مرکزی اداره باید غوڅ چلند وکړی

په هیواد کی له اوسنی انتقالی اداری څخه د خلکو نا خوښی لدی امله را منځته شوی ده چی د مرکزی اداری تر سیوری لاندی ولایتی ملکی او پوځی چارواکی نه یوازی دا چی د دولت داری د اصولو په وړاندی قانونی حرکت کول نه غواړی بلکی د هر ډول ناروا وو، رشوتونو، اختلاس، انسانی حیثیت ته د سپکاوی او د خپل ځان په شاوخوا کی د خپلو قومی سیمه ییزو او تنظیمی اړیکو په اساس د تقرر په برخه کی په پوره سپین سترګی سره خپل اهداف تعقیبوی او په پوځی لحاظ د خپلو ځانونو د پیاوړتیا او غښتلتیا لپاره د خپلو مالی لګښتونو او د سپما د سیالیو د پوره کولو لپاره دولتی ټاکلی نورمونه او قوانین تر پښو لاندی کوی او په دولتی عوایدو خیټه اچوی.

د انتقالی دوری مشر حامد کرزی د هیواد والو د تکراری غوښتنو په پام کی نیولو سره له والیانو څخه د عوایدو د رالیږلو غوښتنه او شکایت وکړ او تصمیم یی ونیو که چیری مرکز ته عواید را ونه لیږل شی د لویی جرګی د راغوښتلو په صورت کی به دولت بیرته وروسپاری. همدا وجه وه چی مرکز ته د عوایدو د رالیږلو بهیر لږ څه تود شو پوښتنه داده چی آیا ولایتی چاروا کی به څومره په ځپلو وعدو او ژمنو کی ټینګ پاتی شی پداسی حال کی چی همدغه چارواکی دی چی اګاهانه یا غیر اګاهانه د خپلو ورسپارلو دندو په سرته رسولو او تنظیم کی د پوره نیمګړتیاوو سره مخامخ دی مرکزی اداری تر اوسه پوری ونه کړای شول چی په جدی توګه د دولت داری د اصولو او مقرراتو له مخی چلند وکړی ځکه چی ټولی ګډوډی او فسادونه پخپله د چارواکو د اګاهانه چلند او یا کمزوری په نتیجه کی رامنځ ته شوی دی له ولایتی چارواکو سره د مرکزی اداری نرم چلند هغوی ته نورهم ددی وخت ډاډ او غرور پیدا کوی ۴

به مناسبت روز جهانی پناهنده گان
کمک ها هرگز نمی تواند جای حل مسایلی که باعث آواره گی می شود بگیرد

در سراسر جهان به مناسبت روز جهانی پناهنده گان، برنامه هایی در جریان است.
هدف از نامگذاری چنین روزی، بالا بردن آگاهی مردم جهان نسبت به رنج هایی است که قربانیان جنگ و موارد تعقیب و آزار دچار آن هستند.
حدود هفتاد کشور، از جاپان گرفته تا جمهوری دموکراتیک کانگو، به همین مناسبت کنفرانس، جشنواره و برنامه های هنری برگزار کرده اند.
هدف اصلي پروگرام هاي سال جاری توجه به مسائلی است که پناهجویان جوان با آن مواجه هستند. خدمت اجباری عسکری و بهره برداری جنسی از جمله این مسائل است.
کوفی عنان، سرمنشی سازمان ملل متحد در آستانه روز جهانی پناهنده گان گفت کمک های انسان دوستانه، رنج های پناهجویان را کاهش داده اما این کمک ها هرگز نمی تواند جای حل مسائلی را که باعث آواره گی آنها شده است، بگیرد.
سازمان دهنده گان روز جهانی پناهنده گان می گویند می خواهند بودجه مربوط به رسیدگی به مشکلات پناهنده گان را افزایش دهند و با مفاهیم منفی پناهنده و پناهجو مقابله کنند.

د ملي اردو سره د همکاری غوښتنه

په افغانستان کی د ملي اردو د جوړیدو روان بهیر ته د چټکتیا ورکولو په موخه پرون د هیواد په شمال کی د مزار شریف ښار ته په افغانستان کی د جاپان او جرمني د سفیرانو په ګډون د دفاع وزارت یو پلاوي سفر وکړ. له دغه پلاوي سره په افغانستان کی د ترهګری خلاف دنړیوالو ائتلافی ځواکونو مرستیال هم ملګری دی. پلاوي سیمیزو مشرانو ته ویلی چی د خانګړو وسله والو ډلو د له منځه وړلو پر ځای د ملي اردو د جوړیدو له کار سره مرسته وکړي. د افغانستان شمال یو له هغو سیمو څخه دی چی د خپل سرو وسله والو ډلو د خپل منځي نښتو له کبله په کی خلك د امنیت له پلوه ډیره اندیښنه لري. دغلته له تیر یو نیم کال راهیسي په دغه ډول نښتو کی تراوسه ګڼ شمیر خلك وژل شوی او ملکی وګړو ته هم تاوان اوښتی دی.

معارف احیای بامیان را جاپان می پردازد

سفیر کشور جاپان در کابل آقای ایچی کومانو در بازگشت از سفر به ولایت بامیان به خبرنگاران گفت: هدف از این سفر امضای یک موافقت نامه جهت حفظ موقعیت کنونی و احیای بامیان بود آقای کومانو افزود اگر چه این برنامه توسط سازمان فرهنگی ملل متحد یا یونسکو اجرا می شود اما بودیجه های آن توسط دولت جاپان تمویل می شود. سفیر جاپان در کابل بودیجه احیای شهر بامیان را یک میلیون و هشت صد هزار دالر عنوان کرد که طی مدت سه سال به مصرف خواهد رسید. سفیر جاپان همچنان از آماده گی کشورش برای ترمیم رادیو تلویزیون دولتی افغانستان خبر داد.

هوادار القاعده با امریکا همکاری میکند

دولت آمریکا می گوید یک حامی شبکه القاعده که به اعضای این شبکه کمک کرده بود تا حمله ای را به اهدافی در آمریکا سازماندهی کنند، اتهام دخالت در امور تروریستی را پذیرفته وبه دولت آمریکا نیز قول همکاری داده است. قوه قضائیه آمریکا روز پنجشنبه نوزدهم جون اعلام کرد "ایمن فریس" که یک راننده لاري در ایالت اوهایو است، نقشه کشیده بود که از طریق خرابکاری قطارها را از خط خارج کند و همچنین پل بروکلین در نیویارک را ویران سازد. جان اشکرافت، قاضي القضات آمریکا، گفت که ایمن فریس از شش هفته پیش در بازداشت بوده است اما توضیح نداد که چرا تا کنون در مورد این بازداشت سکوت کرده و چرا اکنون این خبر را اعلام می کند.آقای اشکرافت گفت که ایمن فریس متولد کشمیر است اما به آمریکا آمده و ملیت آمریکایی دارد. وی گفت که آقای فریس شخصیت دوگانه ای داشته است.به گفته آقای اشکرافت، "آقای فریس در ظاهر، راننده ای پرتلاشي بود که محموله هایی را طبق سفارش به میدان هاي هوایي حمل می کرد و هیچ اشتباهي را برنمی انگیخت اما او شخصیت مخفی دیگری نیز داشت. او به پاکستان و افغانستان سفر کرد و مخفیانه با اسامه بن لادن دیدار کرد و به جهاد القاعده علیه آمریکا پیوست."آقای اشکرفات گفت که "ایمن فریس تحقیقاتی در مورد خراب کردن پل بروکلین در نیویارک از طریق قطع کردن پایه های آن کرده بود. اما او در پیام های شفري که ارسال کرده بود گفته بود این ماموریت نباید انجام شود زیرا امید چندانی به موفقیت آن نیست."

توقیف طرفداران مجاهدین خلق



پولیس فرانسه دهها تن از طرفداران سازمان مجاهدین خلق را که در اعتراض به بازداشت مریم رجوی، رئیس شاخه سیاسی این سازمان در کنار برج ایفل پاریس تجمع کرده بودند توقیف کرد

مریم رجوی از روز سه شنبه که پولیس فرانسه با حمله به مقرهای سازمان مجاهدین خلق یکصد و پنجاه و نه تن از اعضای این سازمان را دستگیر کردند در بازداشت به سر می برد. بعد از ان که سه تن از تظاهر کنندگان در مقابل مقر سازمان ضد اطلاعات فرانسه (د.اس.ت) در پاریس اقدام به خودسوزی کردند تظاهرات هواداران مجاهدین خلق در این کشور ممنوع اعلام شد حل سازمان ضد اطلاعات فرانسه با برج ایفل بیش از چند صد متر فاصله ندارد اکنون هشت تن از هواداران مجاهدین خلق در پایتختهای کشورهای فرانسه، بریتانیا، ایتلیا و سوئیس اقدام به خودسوزی کرده اند اما تنها یکی از آنان که یکی از زنان تظاهر کننده در پاریس بوده جان خود را از دست داده است.

مرکزی اداره باید ...

او نور هم په خپلو ځواکمنیو باندی ډاډه او باوری کیدلای شی داسی ښکاری چی تر اوسه پوری مرکزی اداری ته د ولایتی عوایدو دقیق حساب نه دی ځرګند شوی لدی امله ولایتی ذیدخل چارواکی کولای شی چی ډیره کمه فیصدی عواید مرکز ته راولیږی او زیاته برخه یی بیا هم په خپلو جیبونو کی واچوی ځکه چی په ولایتی اداری واحدونو کی داسی مسوول کسان ټاکل شوی چی د اوسنیو چارواکو سره یی د جوال خوله نیولی ده تر هغی پوری چی انتقالی مرکزی اداره له ټولو اداری واحدونو څخه د تغیر او تبدیل مسئله په پام کی ونه نیسی او په ټولو اداری چارو باندی ژور کنترول او څارنه ونه لری مرکزی اداره به بیا هم خپل عوایداتی ستونزی حل نه کړای شی.

دا کار هله سرته رسیدلای شی چی مرکزی اداره د هغه زور او ځواک څخه چی ملت ورکړی او هغو ځواک چی په نړیواله سطحه ورسره دی د ستونزو په حل کی مرسته تر لاسه کړی مرکزی اداره پوره ځواک او توان لری د دولت داری د مقرراتو او قوانینو په تطبیق کی باید له نرمش او نرم چلند څخه نه، بلکی له جدی او غوڅو اجراتو څخه کار واخلی.

زده کړه د ژوند لپاره

سهراب دیدار

دهري ټولنې په دننه او دځانګړو شرایطو په چوکاټ کې زده کړه خپل ځانګړی ارزښتونه لري او دخپلې ټولنې علمی، اقتصادی ټولنیزو او کلتوری ودې په تناسب او چوکاټ کې وده کوی او بیلابیل بعدونه احتوا کوی.

اوس هغه معقوله له منځه تللې او زړه تثبیت شوې ده چې زده کړه یې یوازې دزده کوونکی دپوهې لپاره دیوه ځانګړې دید په چوکاټ کې ور وړاندې کوله اود ژوندانه نورې پراخه او پراخیدونکی خواوې چې پخپله دانسان دذهنی او فکری ودې لپاره زمینه برابرولی شي ترې لرې ښکاریدلی اوپاتې کیدلی.

مونږ دتاریخ په یوه داسې حساس پړاو کې په حرکت کې یو چې تیرو جګړو زمونږ دټولنیزو اقتصادی کلتوری او آن چې سیاسی ډګرونو دپرمختګ په چوکاټ کې داسې وروسته والی رامنځته کړی چې ټول ذهن او روان یې متاثره کړی دی او دټولنې دهر اړخیز پرمختګ په هکله یې دفکر کولو په برخه کې پوره کمزوري کړې یو اوس دټولنې دهر اړخیزه وروسته پاتې والې دله منځه وړلو لپاره دتعلیمی سیستم دعیارولو او نړیوال تعلیمی سیستم سره د برابرولو په برخه کې ددغه سیستم دټولو نیمګړتیاوو په له منځه وړلو او دمسلکی کادرونو دروزلو لپاره کلکه اړتیا ده چې زمونږ زده کوونکی باید نه یوازې خپل ذهن ته زده کړه وچ په وچه انتقال کړی بلکې دننني زده کړې په واسطه باید دخپلې ورانې ټولنې تل او روان ته ځانونه وردننه کړې او دخپلې ټولنې داوسنی ویجاړ شوی توازن او اوسنی بحران په هکله دژور فکر کولو څخه وروسته دنن او سبا په درشل کې دهر اړخیزې ټولنیزې، سیاسی، او کتلوری او نورو جوړونو لپاره اغیزمن ګامونه اوچت کړی مونږ باید زده کوونکی پدې وپوهوو چې په ننني شرایطو کې دټولنې غوښتنه څه ده او پدې پوه شو چې مونږ چیرې او چیرې باید روان شو. څه وکړو او څه کولو ته خلك وهڅوو.

مونږ باید خپلو زده کوونکو ته یوازې مسلکی پوهه ور زده کړو بلکې ورسره باید د اسې شعور او آګاهانه پوهه ترلاسه کړی چې دهغې په واسطه وکولای شي دټولنې دردونه، اړتیاوی درك کړی او پدې پوه شي چې زمونږ دننني ټولنې په خرابوالې اووروسته پاتې والې کې دمعلوم الحاله ټولنو او اشخاصو په لاس درلودلو سره ستري بدبختی او زیانونه رامنځته شول نو ځکه لازمه شوه چې زمونږ ځوانان خپلې زده کړې دژوند لپاره استخدام کړی اودخپلې ټولنې په تل او روان کی په ورننوتلو سره وکولای شي چې دټولنې اړتیاوې درك کړی دوی یوازې دملي احساس او اګاهانه درك په واسطه کولای شي چې دټولنې دبیلابیلو سیمو قومونو او اوسیدونکو دملی یووالی په برخه کې دملي احساس په درلودلو سره ګامونه پورته کړی او دټولنیزو بدبختیو په له منځه وړلو کې خپل جوړوونکی رول سرته ورسوي.

مونږ خپلو زده کوونکو ته دمسلکی پوهو په ورکولو سره کولای شو چې دهغوی په تربیوی خواکې تر تعلیمی برخې زیات زور واچوو ځکه یوازې هغه مسلکی کادرونه کولای شي چې دخپلو مسلکی زده کړو ترڅنګ دپوره تربیوی اړخ دپیاوړتیا درلودنکی وي او دخپلې ورانې ټولنې لپاره دخدمت مصدر وګرزي او که مونږ په خپلو زده کړو کې تربیوی اړخ ته پاملرنه کمزوری شي کیدای شي چې دغرض څښتان په خپلو مذبو حانه هلو ځلو سره دخپلو شومو اهدافو دسرته رسولو لپاره زمونږ دځوانانو دهغو هلو ځلو مخه ونیسي چې دهغوی په واسطه دټولنې غوښتنې په پام کې نیولای شو اودوخت له شرایطو سره سم حرکت کولای شو.

له راستنیدونکو سره دناروی هیئت مرستی

اباسین

له راستنیدونکو کډوالو سره دټولنیزو ستونزو په له منځه وړولو کې دمرستې په موخه دمهاجرینو لپاره دناروې هیئت څه موده وړاندې په کابل کې هم په فعالیت پیل کړی دی.

په کابل کې دراستنیدونکو دمعلوماتي او حقوقی مرستو مرکز په پام کې لري دنورو هیوادونو په څیر په افغانستان کې هم له کډوالو سره دهغوی دژوند د چارو دسمون او بریا په هیله پراخه همکاری ترسره کړي.

دناروې هیئت د همکاریو دغه پراخه کمپاین تر دوهمې نړیوالې جګړې وروسته پیل شو چې اوس په ۱۷ هیوادونو کې دفعالیت ځانګې لري.

خو د افغان مهاجرو سره هغه چې دجګړو له وجې کډه شول دغه پروګرام دبشري مرستو په ډول دیوې مستقلې ځانګې له لارې دلومړي ځل لپاره په پاکستان کې پرافغانستان دشوروی تریرغل وروسته پیل شوی دی.

ښاغلي عبدالوکیل صدیقی دناروې هیئت له خوا دافغان مهاجرو لپاره دمعلوماتی او حقوقی کمکونو دهم غږ کولو دلړی مشر دی، نوموړي ددې مرکز دعمومی اهدافو په اړه وایی:

دانسانی مرستو رسول دښوونې او روزنې په برخه کې فعالیت. دراستنیدونکو لپاره دسرپناه جوړول اودمهاجرو سره په حقوقی او معلوماتی برخو کې همکاري کول زمونږ دکار اوفعالیت اساس تشکیلوی))

دې دغه راز زیاتوی چې د ناروی هیئت دنړیوالو نورمونو او قوانینو په پلي کولو کې تل پراخه ونډه اخلي، څو دنړیوالو حقوقی پرنسیپونو سره سم باید په هر ځای کې دمهاجرو د چارو څارنه او محافظت وشي یعنې د جګړې پرمهال په اجباري توګه ونه شړل شي.

دا چې دیوې نیمې میاشتې په جریان کې کوم اهداف دغه مرکز پرمخ بولي.

سید امان الله ابدالی دکابل د حقوقی او معلوماتی مرکز مشاور دخپلو فعالیتونو په اړه وایی ((په مرکزی دفتر کې ۹ نارینه او ښځې د حقوقو او شرعی اصولو متخصصین دنده ترسره کوی په مجموعی توګه مونږ هغه عوامل ترغور لاندی نیسو چې دمهاجرو دراستنیدو مانع کیږي. دبیلګې په توګه دلته ملکیتونه غصب شوی مونږ د هغو په قانونی فیصلو، محاکمو او د اسنادو په څیړلو کې ورسره مرسته کوو. دغه راز ګڼ شمیر افغان مهاجرین په پاکستان او ایران کې په زندانونو کې ژوند تیروی کورنی دهغوی ددوسیو په خلاصولو او دقضیو په حلولو کې ستونزې لري مونږ له دولتونو او مقاماتو سره په تماس کې کیږو څو شرایط برابر کړو چې هغوی خپل قانونی مراحل ترسره کړای شي ددې ترڅنګ ډیر داسې مزدور کاران هم دی چې په بهرنیو ملکونو کې د هغوی دخواری غریبی، مزدوری دکار دمالکینو له خو ګنګل شوی دي څو دهغوی مالي اقتصادی دوسیې فیصله شي.))

دښاغلي ابدالی په وینا په معلوماتی برخه کې دغه اداره کوښښ کوی هغو کډوالو ته چې وطن ته راستنیږی دمحیطی شرایطو په اړه معلومات ورکړي چې آیا مکاتب شته، دځښلو اوبه، روغتیایی مرکزونه او دژوند نوري چارې څه ډول پرمخ تللی شي. نوموړی وایی ((زمونږ اساسي هدف دادی چې زمینه برابره کړو ترڅو کډوال په تدریجی توګه نه په زور جبر خپلو کلیو ته راستانه شي)) دغه راز ابدالی دا هم زیاتوی چې دمرکز له تاسیس نه تر ننه یې یوازې دهغو کډوالو چې له پاکستان نه د تورخم له لارې راستنیږي (۲۰) حقوقی اوتر ۸۰ زیاتې معلوماتی قضیې خلاصی کړي دی.

دا چې دغه مرستندویه اداره چې ښایی ځانګې یې په افغانستان کې راتلونکی کلونه نور هم وسعت ومومی د چاله خوا تمویلیږی ښاغلي وکیل صدیقی وایی: ((دناروې هیواد خارجه وزارت دغه کمیټی ته مالي مرستې برابروی خو په افغانستان کې دحقوقی او معلوماتی پروژو ساحوی تمویل دملګرو ملتونو دکډوالو داداري په غاړه دی.))

ورزش ضامن تندرستی

متصد: بشیر نذیر

پیاده بروید تا برازنده تر جلوه کنید

پیاده روی عمل گردش خون وتنفس را سریع میکند. محرک فعالیت روده ها است و باچاقی مبارزه میکند کسانیکه از صحت کامل برخوردار اند ومایل به حفظ این سلامتی هستند باید هر روزه پیاده روی کند این ورزش سبک بخصوص برای آنهاییکه در شهرها زندگی میکند وفعالیت بدنی کافی ندارد وتحت فشار های عصبی قرار دارند توصیه میشود. درست است که در شهر های بزرگ از هوای سالم کوهستان خبری نیست ولی این بهانه نباید مانع پیاده روی درشهر گردد. پیاده رو ی‌عکس العمل های مفیدی دربدن ایجاد میکند و در نتیجه هم باعث حفظ سلامتی میگردد وهم زیبایی آفرین است این ورزش باعث بهبود عمل اکسیجن گیری خون میشود درنتیجه پوست را شفاف، گونه ها را گلگون چشمها را درخشان ونگاه را شفاف می سازند.

علاوه برفوایدی که شرح داده شد. باید بدانیم که پیاده روی باعث نرمش وسبکبالی میشود. البته پیاده روی صحیح باید مطابق ریتم معینی صورت گیرد ورنه پنج قدم راه رفتن ونیم ساعت و یک ساعت تماشا کردن نتیجه دلخوا را عاید تان نمیکند.

بارتزه غواړي مانچستر یونایټډ پریږدي



دانګلستان دمانچستر یوناتید دملی تیم فرانسوی ګولکیپر فابین بارتز اعلان کړی چې غواړي ددې تیم لمړی لمبر کمیس وساتی.

درویتر دخبري آژانس دخبر له مخې بارتز همدا اوس په فرانسه کې دکنفدراسیونونو دجام په سیالی کې برخه لري او وې ویل: دهغه لپاره هرشي په مانچستر یوناتید کې په ښه والی سره مخه ته ځي او سل په سلو کې دهوساینې نه برخمن دی. بارتز چې ۳۱ کلن دی او په ۱۹۹۸ او ۲۰۰۰ میلادی کالونو کې دفرانسې پلې تیم سره دجهانی جام او داروپا فاتح شوی. تر اوسه دقرارداد له مخې درې کاله نور یې هم په مانچستر یوناتید کې پاتی دي دهغه نشتوالي په وروستیو دریو لوبو کې چې دانګلستان دوتلو تیمونو ترمنځ وشوه دا آوازې تودې کړې چې نوموړي ګولکیپر به کوم بل تیم ته توظیف شي.

د ایورست څوکی ته د تلونکو شمیر زیات شویدی

دهغو کسانو شمیر چې د یورست لوړې څوکې ته دپور ته کیدلو نیت لري ډیر زیات شوی دی.

دیورست دلوړې څوکې دفتحې په پنځوسمه کالیزه کې دغې څوکې ته درسیدو لپاره دتلونکو شمیر زیاتیدونکی و په همدغه وخت کې د یونیشیرو میورا په نوم یو اویا کلن جاپانی سپین ږیری له خپل زوی او اوو نورو تنو سره دډیر سپین ږیرې غره ګرزیدونکی په توګه خپل نوم ثبت کړی دی چې تر اوسه پورې یې د ایورست څوکه فتحه کړیده.

نوموړې هغه پخوانی ریکارد چې ۶۵ کلن سپین ږیری پورې یی اړه درلوده مات کړی دی.

څه موده دمخه دنړۍ د ډیر لوړ غره په جنوبی لمنه کې څه ناڅه ۱۵۰ غره ګرزیدونکی او دهغوی لارښوونکی څوکې ته دپورته کیدلو په انتظار کې وو او ځنیې اوس هم په لاره کې دي.

یو شمیر چینایی غره ګرزیدونکی له شمالی ضلعی څخه څوکې ته ورسیدل او دچین دخلکو لپاره یې دځوکې ژوندی فلم هم ثبت او پخش کړ.

په ۱۹۷۵ م کال کې جانکو تابی لومړنۍ ښځه وه چې یورست یې فتح کړ. نوموړی داسوشیدپرس خبریالانو ته ویلی دي چې یوازې باید دوو یا دریو تیمونو ته اجازه ورکړل شي چې په هر فصل کې ایورست ته پورته شي.

دولت باید دخپلو صادرشوو اجازه لیکونو شمیر کم کړی.

سرکال دځو اونیو دتند او تیز باد په لګیدو سره ایورست څوکې ته دغره ګرزیدونکو دپورته کیدلو په لاره کې خنډونه رامنځته شوی. بالاخره څوکې ته تلونکی بریالی شول.

یوه شپه وروسته اسمان صاف اوستورې ښکاره شول لوړې څوکې ته دپورته کیدلو دپنځوسمې کالیزې له رسیدو څخه یوه اونۍ دمخه سراد موند هیلاری او تنزینګ نورګی لوړې څوکې ته ورسیدل کله چې دچین دولتی تلویزیون دهغه هیواد تیم دنړۍ په لوړو څوکه باندې داستراحت په حال کې وښودل دپیکنګ خلکو خوښې وکړه.

دنوموړې تیم یو غړی په یوه مستقیم پروګرام کې دچین لیدونکو ته وویل: سخت باد لګیږی ډیر سخت. زمونږ لومړی تیم دی چې څوکې ته ورسیدو دچین دخلکو لپاره ډیرې هیلې لرو. د رپوټونو له مخې دو بلد او څو نور تیمونه هم له چینایی تیم څخه مخکې او یا لږ وروسته دشمالي ضلعې څوکې ته ختلي دي. خو جنوبی برخه کې څوکې ته دسلو غره ګرزیدونکو رسیدل دسخت باد دلګیدو له امله ناکام شول اودهغوی ځینې کسان چې ۳۵۰ مترو پورې ختلي وو له ختلو څخه پاتې شول.

ستون فقرات تانرا حفاظت کنید؟

برای اینکه از دردهای ستون فقرات نجات یافته باشید چند مشوره را درنظربگیرید.

درهنگام راه رفتن متوجه خود باشید، شانه های خود را راست و استوار بگیرید. قسمی دست بیاندازید که کف دست تان حرکت به پیشرو داشته باشد. آزاد و هموار قدم بگذارید این طور تصور نمائید که کوزه آب را در سر دارید و آن نباید به افتد به پنجه پاه راه نروید.

وبالاخره مشوره های اخیراینست که راست بایستید پاهارا نزدیک سازید شانه های خود را به پیش بکشید وچشمان خود را ببندید آیا در چنین حالت برایتان استاد شدن ساده است؟ اگر توازن خود را از دست بدهید مهم نیست این تمرین را چندین بار برای سه الی پنج دقیقه تکرار نمایید.

آیا میدانید که ایستاد شدن بالای یک پای مفید است؟

در اثر تحقیقات متخصصین به چنین نتیجه رسیده اند که تمرین مذکور برای ستون فقرات زیاد مفید است وحتی بعضاً جهت تداوی از این تمرین استفاده میگردد. بیائید بالای خود این تمرین را تطبیق نمائیم.

اولتر از همه بکوشید تا استاد شدن بالای یک پای را بیاموزید پای راست خود را بالابرید تا جاییکه پنجه های پابه لگن خاصره تماس دست راست خود را پایین تر از ساق پا قرار دهید و خود را کاملاً آزاد وسست نگهدارید.

بعداً زانوی راست خود راکنار ببرید قسمیکه کف پا به ساده گی به ران تماس کند این عمل باید در جریان یک الی دو دقیقه صورت گیرد. بعداً احساس مینمائید که خستگی تان کاملاً رفع گردیده است این تمرین برای ستون فقرات فوق العاده مفید است وعضلات آنرا تقویه می نماید. یکی از طرق تقویه عنوان ستون فقرات آب بازی است بخصوص آببازی به پشت.

نرود بیا هم د چلد د کال لوبغاړی



پاول نرود د ایتالیا د یونتوس تیم د میدان میانه لوبغاړی د څلورم ځل لپاره د چلک عالی لوبغاړی او د طلایي توپ څښتن شو.

د رویتر د خبر له مخی د پراګ نه د بو نظر اخیستلو په ترڅ کی چی د فوتبال د خبرنګارانو لخوا ترتیب شوی و د چلک د ملی تیم لوبغاړی نرود ته د رایو په اکثریت د ډیر ښه لوبغاړی لقب ورکړل شو.

نرود ۳۰ کلن دی او په دی وروستیو کی د ایتالیا د تیمونو په سیالیو کی دده تیم (یونتوس) د اتل لقب وګاټه. همدارنګه د اروپا د تیمونو وروستیو سیالیو ته یی لاره پرانیسته او ډیر عالی او ځلانده وبریښید. هغه اوس هم د چلک جمهوریت د کپتانی مټ بند چی د اروپا ملتونو د ۲۰۰۴ کال د لوبود جدول په صدر کی ولاړ دی لری.

نامه سر گشاده کمیته تدارک برای ...

دموکراسی و برای دفاع از آزادی های مشروع و اساسی جامعه گام بردارد پژواک و صدای مردم درد مند و رنج کشیده باشد از فضا جدیدیکه بعد از ۲۳ سال جنگ و ویرانی تحت زعامت حضرت عالی بوجود آمده مردم شدیداً نسبت به آینده بهتر چشم دوخته است در شرایط کنونی جامعه رنج دیده افغانستان در حال تمرین دموکراسی است و خصوصاً مطبوعات آزاد به عنوآن وجدان بیدار جامعه باید این رسالت سنگین و مهم را با اگاهی کامل از چالشهای دشوار و مخاطرات جدی این مسیر صعب به انجام برساند . متاسفانه این روند با گذشت زمان چند گاهی با موانع جدی برخورد میکند که از آن جمله میتوان به تهدید ها ، آزار و ازیت و لت کوب ژورنالستان و توقیف مطبوعات و زندانی کردن ژورنالستان با بهانه های مختلف با اغراض شخصی اشاره نمود . تاسف بار تر از همه حادثه اخیریکه منجر به توقیف هفته نامه آفتاب و زندانی شدن آقای مهدوی مدیر مسوول نشریه آفتاب و سردبیر آن هفته نامه یاد کرد .

کمیته تدارک برای ایجاد اتحادیه آزاد و سراسری ژورنالیستان افغانستان وظیفه خود میداند که در ین مقطع حساس و سرنوشت ساز نکات چند را به عنوان رسالت مطبوعاتی به استهضار مقام محترم ریاست دولت انتقالی اسلامی به عنوان پاسدار آزادی مطبوعات و دموکراسی برساند .

۱ - اقای مهدوی به جرم نوشتن و انتشار مقاله تحت عنوان فاشیزم مقدس گرفتار و هفته نامه افتاب توقیف گردید و مقاله یاد شده توهین به اسلام پنداشته شده است . در حالیکه اگر این مقاله به دقت مطالعه شود به خوبی روشن میگردد که روح مقاله و فضا کلی این نوشته نه تنها توهین با اسلام نیست بلکه منظور نویسنده مشخصاً محکوم کردن استفاده ابزاری از اسلام بنام اسلام است و این روند باعث شده است با اینکه اسلام از کاملترین ادیان الهی است درد مندانه باید یاد آور شد که مسلمانان از کاروان پیشرفت و ترقی در جهان معاصر عقب بماند .

۲ - در شرایط کنونی که ما به سوی دموکراسی و آزادی بیان گام بر میداریم انتظار مردم افغانستان و جامعه بین المللی از دولت مردان اینست که بدور از هر گونه فشار و تعصبات تنگ نظرانه امنیت مطبوعاتی را تامین نمایند . ضرور این بود که نظرات آقای مهدوی را با استدلال و منطق رد میکردند . این در حالیست که آنها تریبون های زیاد و امکانات گسترده در عرصه مطبوعات و نشرات در اختیار دارند . اگر از انصاف بدور نرویم اسلام با منطق خشونت ، توقیف و زندان شدیداً مخالف است . بناً نباید اجازه داده شود که حلقات و مجموعه های معلوم الحال به خاطر منافع شخصی و تنظیمی خود اسلام را در اذهان جامعه جهانی دین خشونت توقیف و زندان معرفی نماید .

۳- باید به صراحت یاد آور شد که هیچ گونه نگرانی و دغدغه از اسلام وجود ندارند . عمده ترین نگرانی ها اینست که روند آزادی مطبوعات و آزادی بیان به نفع کسانی نیست و اگر این آزادی ها نهادینه شود مشت ها باز شده پرده ها کنار رفته حقایق بیش از پیش روشن میگردد .

۴ - ما نه تنها خواستار انتشار مجدد هفته نامه آفتاب و آزادی بدون قید و شرط مدیر مسوول و سردبیر هفته نامه آفتاب میباشیم بلکه انتظار ما از شخص آقای کرزی اینست که عاملین این حادثه را برای مردم معرفی نموده قضاوت را به مردم واگذار نمایند .

۵- در ین اواخر روند برخورد با مطبوعات و ژورنالستان بسیار وخیم و نگران کننده است . انتظار ما از دولت انتقالی اسلامی و شخص شما و تمام نهاد های دفاع از آزادی بیان و مطبوعات اینست که تدابیر جدی و مشخص را در جهت تامین امنیت و دفاع از مطبوعات اتخاذ نموده به این روندی که حیثیت ملی و بین المللی دولت را شدیداً خدشه دار میسازد پایان دهد .

۶- انتظار جامعه مطبوعات از وزارت اطلاعات و فرهنگ به عنوان متصدی و مدافع مطبوعات کشور این بود که با مسایل با دقت بیشتر برخورد میکرد زیرا برخورد شتابزده اخیر وزارت اطلاعات و فرهنگ در مقابل نشریه آفتاب باعث تحیر جامعه مطبوعاتی گردید .

والسلام

کمیته تدارک برای ایجاد اتحاد آزاد و سراسری ژورنالستان افغانستان

تدویر محفل یاد بود از شریعتی را مانع شدند

از برگزاری محفل گرامی داشت از دکتور علی شریعتی دانشمند و اسلام شناس معروف در کابل ممانعت به عمل آمد ، قرار بود شب شعری به مناسبت (۲۹) جوزا سالروز در گذشت شریعتی توسط تعداد از شاعران جوان و فرهنگیان افغان در سالون ریاست رادیو تلویزیون برگذار شود ساعتی پس از حضور مهمانان در سالون مامورین امنیتی دستور دادند تا اشتراک کننده گان محل را ترک گویند . این اولین باری است که پس از سقوط طالبان از برگزاری یک محفل فرهنگی ادبی در کابل ممانعت بعمل می اید . یکی از مامورین امنیتی رادیو تلویزیون دلیل برهم زدن این محفل را عدم هماهنگی برگزار کننده گان محفل با مقامات ریاست رادیو تلوزیون عنوان کرد اما محمود حکیمی روزنامه نگار افغان و یکی از برگزار کننده گان این محفل گفته است : قبلاً نظر موافق مقامات رادیو تلویزیون را برای بر پای این محفل بدست آورده بود . اما علت ممانعت این مجلس سیاسی دانسته و آنرا در ارتباط با دستگیری روزنامه نگار و مدیر مسوول جریده آفتاب عنوان کرد .

معاشات شش ماهه معلمین پرداخت نشده است

معلمین ولایت بغلان در اعتراض به عدم پرداخت معاشات شان در مقابل ریاست معارف این ولایت دست به اعتراض زدند . تعدادی از معلمین ولسوالی های ولایت بغلان در روزهای چهارشنبه و پنجشنبه با اجتماع در مقابل ساختمان ریاست معارف در شهر پلخمری اعتراض خود را نسبت به عدم دریافت معاشات شش ماهه خود اعلام کردند . مقامات ریاست معارف بغلان در پاسخ به اعتراض کننده گان گفتند که تاکنون پول از کابل برای پرداخت معاشات مامورین معارف پرداخت نشده است . اما اعتراض کننده گان ادعا می کنند که بعضی از معلمین این ولایت معاشات خود را دریافت کرده اند .

پنجاه و پنج کیلو هیروئین ضبط شد

نیرو های پاسدار سرحدی که مرز میان افغانستان و تاجکستان را نگهبانی می‌کند به ارزش (۵۰۰) هزار دالر هیروئین را ضبط و مصادره نموده اند . یکی از سخنگویان وزارت داخله تاجکستان گفته است که نیروهای پاسدار سرحدی طی دو عملیات در دو روز گذشته (۵۵) کیلو گرام هیروئین را ضبط نموده و یک تن از قاچاقبران افغان را طی عملیات اول دستگیر نموده و در عملیات دوم دو تن از قاچاقبران موفق شدند از مرزها عبور کرده داخل افغانستان شوند .

In This Issue

1- World's Journalists Condemn Detaining Of Mahdawi
2- Japan To Reconstruct Bamyan
3- Ideas About The Constitution Expressed In A Meeting
4- The Central Government Should React Seriously
5- Ceremony In Respect Of Sharifi Disturbed
6- Teachers In Baghlan Haven't Received Their Six Month Salary
7- Fifty Five Kg Heroin Discovered
8- Requests To Support The National Army
9- World Refugee Day
10- Triangular Agreement Signed In Tehran
11- UN Concern Of Detaining Two Afghan Journalists
12- Received Letter
13- Sport Page

تقرراتی سازمان ملل از بازداشت دو روزنامه نگار افغان

سازمان ملل متحد بخاطر توقیف دو روزنامه نگار در افغانستان به اتهام توهین به اسلام ابراز نگرانی کرد. مدیرمسوول هفته نامه آفتاب، چاپ کابل و معاون بعد از انتشار مقاله ای که مقامات افغانستان آن را کفرآمیز قلمداد کردند، بازداشت شدند.

ماتوئل دالمیدا اسیلوا، سخنگوی سازمان ملل متحد در کابل گفت: آن بند از قانون مطبوعات افغانستان که در آن توهین به اسلام ممنوع شده و دو روزنامه نگار نیز بر اساس همین بند بازداشت شده اند مبهم است و همین ابهام امکان بروز اشتباه را فراهم می کند.

نسخه های هفته نامه آفتاب پس از بازداشت مدیر مسوول و معاون او از سطح شهر جمع آوری و دفاتر این نشریه نیز مسدود ساخته شده است

د مهدوي په نیولو ...

تورونه دي لري کړي . د فرانسي د بي سرحده خبریالانو د ډلي مشر روبرت په یوه اعلامیه کی دغه نیوني د خواشیني وړ بللي او په افغانستان کی یي د بیان د آزادي په راتلونکی اندیښنه څرګنده کړي ده ، دغه راز د ملګرو ملتونو او د افغانستان د بشري حقوقو مستقل کمیسیون خپل تشویش ښودلی دی .

نامه وارده

حضور محترم مدیر صاحب مسوول روزنامه اراده!

اولتر از همه سلام های خود را خدمت کارمندان محترم روزنامه اراده تقدیم نموده از خداوند برایشان کامیابی بیشتر در قسمت رسانیدن آواز مردم به گوش مسئولین خواهانم .

برای شما بیشتر معلوم است که راه ترانسپورتی شمال ۲ سرک میباشد سرک جدید و سرک کهنه (قدیمی) بنده طوریکه مشاهده مینمایم همه روز موترهای مزارشریف وولایات صفحات شمال تماماً موترهای باربری وتکسی از راه قدیمی استفاده مینماید که همیشه درهفته چندین حادثه دلخراش ترافیکی باعث کشته شدن وزخمی شدن مردم میشود چون سرک قدیم یک سرک خورد بوده وگنجایش موترهای باربری وبس راندارد طوریکه روزهای جمعه تعدادی کثیر هموطنان ما جهت تفریح به سالنگ وبعضی نقاط مختلف میروند و درهرجمعه ۲ حادثه الی ۴ حادثه در سرک قدیمی رخ میدهد بنده از جناب شمایان تقاضاء دارم تا باوزارت محترم ترانسپورت وریاست محترم ترافیک در ارتباط شوید تا منبعد یک تعداد از وسایط نقلیه باربری را از راه جدید رهنمایی نمایند تا عبور مرور در جاده قدیم کم شود تا همچو حادثات ترافیکی رخ ندهد.

بااحترام

نجیب الله انتظار

از ولسوالی میربچه کوټ

اراده — د افغان نشراتي مرکز خپرونه

زیر نظر هیأت تحریر انتشار میابد

موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داؤد

مدیر مسوول : ظهور افغان

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان

اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز ودیزاین : احمدشاه«وحدت»

چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان

قیمت یک شماره ۲ افغانی

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)

تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷ ۰۷۰۲۷۹۳۰۴

ERADA Daily

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787 / 070279304 eradadaily@hotmail.com
engineerjamil_amiry@yahoo.com